مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوار سنگروال
۲۰۲۳/۰۹/۰۲

# افغانستان او د هند گورگانیان

## ۲یمه برخه

## بابر د هند له برید نه دمخه

**۱- کابل او بابر:**
بابر چې په ۱۵۰۴ ز (۹۱۰ ه) کال کابل ته راننوت، له همغو لومړنیو شیبو نه د کابل په ښکلا مین شو، د کابل له جغرافیوي جوړښت نه راواخله تر ښکلی او زړه راښکونکی هوا پورې دده په زړه کې ځای ونیو، ده پخپله د کابل ستاینه داسې کړېده.
«کابل چې الله پاک پخپل عنایت سره ماته راوبخښه، له څلورم اقلیم څخه شمېرل کېږي. ختیځ لور ته یې پېښور، کاشغر او د هندوکش څنې سیمې، لویدیځ ته یې کوهستان، شمال ته یې کندوز او اندراب پراته دی. جنوب ته یې دافغانستان فرمل نفرس او بنو دی.
د کابل کلا له غره سره پیوسته ده او د غره په څوکه کې د کابل پاچا یوه ماڼۍ اباده کړی ده. څکه نو دغه غر هم د «شاه کابل» په نوم نامتو دي.....کوم وخت چې الغ بیګ میرزا د دې ځاي واکمن وو، نو دهغه امیر «دیس آتکه» د دې غره په لمنه کې یو نهر کیندلی وه، چې په دې نهر سره ټول باغونه خړ وبېږي....تجارتي قافلې پر غلامانو، سپینو ټوکرانو، مصري قند....باروي، سوداګر داشیان خراسان، عراق، روم او چین ته وړي......(په دی سره) کابل د یوه ستر او غوره مینځلاري مارکېټ حیثیت غوره کړیدی.....»[1]
بابر په پاسنی لیکنه کې د «الغ بیګ» میرزا د نوم یادونه کړېده، چې د دې سیمې پاچا وه!؟
موږ باید په یاد ولرو چې په دغه پیر کې په لړ توپیر دوه «الغ بیګه» تېر شویدي:
۱- یو هغه الغ بیګ چې د تیمور ګورګانی لمسی کېده، دی پخپل مهال کې د سمرقند والي وه او یو نامتو منجم بلل کېده.
۲- بل هغه الغ بیګ په تاریخ کې پیژنو، چې دی د بابر تره د عمر شیخ میرزا وررور او د سلطان ابو سعید ګورګاني زوی کېږي.
دغه الغ بیګ هغه څوک وو، چې په یوي میلمستیا کې د یوسفزیو ګڼ شمېر مشران ووژل.
کوم الغ بیګ چې ده یې یادونه کړېده، هغه د کابل واکمن وه، چې دده له راتلونه درې کاله دمخه (۱۵۰۱ ز) ساه ورکړې وه. بابر د خپل تره له یادوني پرته، د هغو قومونو یادونه هم کړېده، چې په کابل کې استوګن ول، چې موږ ترکمنان، تاجکان او افغانان (پښتانه) د بېلګې په توګه یادولی شو.
ولې په غزني کې د نورو قومونو په جنګ کې «هزاره» توکمه وګړي هم یاد کړي دی. بابر د یو شمېر ژبو یادونه هم کړی ده، چې په کابل کې به وګړي پرې ګړیدل لکه عربي، ترکي، مغلي، هندي، پراچي، تکیري، پشه یي، لغماني، پارسي او پښتو.
**۲- د کابل ختیځې سیمې**
بابر نه یوازې د کابل د ختیځو سیمو یادونه او ستاینه کوي، بلکې ده لکه د یوه جغرافیه پوه په څېر د آمو او اباسین تر مینځ تر ډېره بریده د ټولو سیمو نومونه هم په بابر نامه کې کښلي دي او له دې سربیره بابر چې کله له اباسین نه اوړي نو له اباسینه راواخله تر ګنګا پورې سیمې هم موږ ته راپیژني.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دی په لومړۍ وار د هند نيمي وچي ته نه دی رسيدلی، بلکي ځو واری د هېواد ختيځ ته تللی، د خلکو په ځانګړي ډول د پښتنو له ګوابښ او غبرګون سره مخ شوی او بيا بيرته کابل ته راګرځېدلی دی.
ده کابل په څوارلس ولسواليو وېشلی او په دي اند وی چي «ختيځه برخه لمغانات، په ينځو قريو مشتمله ده، «ننی کنهار» تر ټولو غټه قريه ده، مرکزيي «ادينه پور» دی، چي له کابل نه ديارلس فرسنګه لري پروت دی....په کال ۹۱۴ ه کي مي د ادينه پور سره پيوست په جنوبي غونډۍ يو بڼ وکاره، چي د «باغ وفا» نوم ورکړ شويدی.»[2]
ښايي بابر په لومړي سفر کي چي د هېواد ختيځ پلو ته وخوځېد د ياد باغ پرانسته نه وي کړي دا ځکه چي دده د سفر پوري چي په ۱۵۰۵ ز کال د جون (۹۱۱ ه) په مياشت کي د جګدلک له لاري پيل شو له خير نه تېريدی ځان جم ته رسوي.
ده په لومړي سفر کي وليدل وی پتيله تر هغي چي پلار يي په اوردو کي پراته قومونه ونه ځپي، هند ته نشی رسيدلي.
ده ته لومړني سفر دا هم وښوده، کله چي دی له جم نه کوهاټ ته روان شو د ګګياني پښتنو له خوا وګوابښل شو.
او دی پخپله وايي چي «ګګياني» افغانانو په «پرشاور=پيښور» کي ژوند کاوه او په دي ټينګار کوي، چي په کوهاټ کظ مو دوه شپي تېری کړی او ډېر افغانان مو ونيول او هر څه مو تري لوټ کړل.
بابر له ګګيانيو افغانانو پرته، په بنو کي چي کوهاټ ته څېرمه پروت دی د بنګښنو افغانانو يادونه هم کوي او وايي چي موږ فيصله وکړه چي بيا د «نغره» يا فرمل له لاري کابل ته لاړ شو.
بابر د خپل کتاب په ۲۳۱ مخ کي او پوهاند حبيب الله تږي د خپل کتاب په ۱۸۸-۱۸۹ مخونو کي د هغه د څرګندونو پر بنسټ کاږلي دي، چي:
«په کوهاټ کي دريا خان د يار حسين زوی.....خواست رانه وکړ، چي په دلزاکو، يوسفزو او ګګيانيو باندي يو شاهي فرمان راکړه څکه کله که زه وغواړم چي سند د سيند له هابلي غاړي نه د باد شاه په نامه جنګي مېړونه راټول کړم، نو هغوئ به غاړه ونه غړوي درياخان ته دا فرمان ورکړ شو او له کوهاټ نه رخصت کړی شو.»[3]
دلته دوه خبري ډېري موهمي دي، لومړی دا چي د يوسفزيو شتون په کوهاټ کي دا ښيي چي د الغ بيګ له پيښي دمخه لا يوسفزي په پيښور، کوهاټ او نورو سيمو کي استوګن ول.هغه يوسفزي چي د بابر تره الغ بيګ له خوا وژل کيږي او حال دا چي د الغ بيګ او بابر د واکونو تر مينځ ډېر واټن شتون نه درلود.
خو بيا هم د هغوئ پاتي کورنی د غزني او کابل شاوخوا سيمو نه پيښور ته ځي او بيا تر سوات پوري خوريږي، دا کيسه راته وروستئ ښکاري په دي مانا چي که موږ ووايو چي له دېنه دمخه يوسف زی دلته نه وه، نو بيا ولي دومره ځواکمن شول؟ دويمه خبره چي ډېره د پام وړ ده، هغه د ملک د يار حسين زوي د ملک درياخان کيسه ده چي هغه له بابر نه فرمان اخلی او بيا له اټک نه پوريوڅي او خپلي کورنی او ټبر ته ستنيږي چي دغه مهال په حسن ابدال کي مېشت او ودان وو.
ملک درياخان وايي کله چي زه جنګيالي د سلطان لپاره راټولووم بايد څوک دده پر وړاندي ونه دريږي.
له دي څخه ښکاري چي له اباسين نه پوري غاړي هم هلته دومره پښتانه قومونه استوګن ول، چي جنګي مېړونه تري راټولېدل.
که څه هم ډېري سرچيني، لاسوندونه او کره سندونه شتون لري چي د اسلام له دين نه دمخه لا «دلزاک» دې سيمي کي استوګن ول. له دوئ سره جوخت نور پښتانه قومونه هم په برهان، حسن ابدال، علي پور، خان پور، ټکسلا او ان تر مارګلي پوري اوسېدل. دا چي بابر ليکلی دي کله چي ما لاهور لاندي کړ، په همغه وخت کي مي دکيلي يو ټي له ځان سره راوړل او په «باغ وفا» کي مي وکرل. بابر په لومړي سفر کي وايي، چي په کوهاټ کي مو شاوخوا د افغانانو دوه سوه ککري پري کړي او هنګو ته څېرمه مي د بنګښنو له ککريو څلی ودروه، ورپسي مي د مغرورو افغانانو د سرونو يو بل منار جوړ کړ.
همدارنګه نوموړي پخپل کتاب کظ د بنود «کله منار» کيسه هم کړي او له دي سربيره د نورو قومونو يادونه هم کوي، چي موږ عيسی خيل، نيازي، لواني او د يو شمېر لويو او وړو قومونو يادونه د ساري په توګه کولی شو، چي د دوی له ککرېيو نه يي څلي او منارونه درولي وو.
بابر په دغه سفر کي د يو شمېر کلو، سيمو او باندو يادونه هم کړېده لکه جم، کوهاټ، هنګو، ټل، بنو، ګومل او نور.
په دغه سفر کي ده د يو شمېر بګنوونکو کېسو له مخي پلو پورته کړی دی، چي په لوستلو يي سړي ته د بېوځلی او بېوسی ستونزي سترګو ته دريږي.....لکه راوخله: په کوهاټ کي د ځاروېيو يرغمل، د ملک بو سعيد کيسه چي بابر ته به يي ياغي پښتانه په ګوته کول، د بابر لښکر به چي د افغانانو له پريکړو ککريو څلي درول، د افغان سوداګرو لوټول، د کوچيانو د رمو برمته کول، د هغو افغانانو يادونه چي په غرونو کي به يي د الوتکو هګی راټولولي، د هغوی نيول او وژل، بابر د هغي کيسي پخلی هم کوي، چي جهانګير ميرزا ته يي امر وکړ، چي غزني ته په لاره افغانانو يرغمل کړي....د کتاب په ۲۳۹ مخکی کاږلي دي چي جهانګير ميرزا ګڼ شمېر افغانان لوټ کړل، مېږي او پسونه يي راوستل.....
بابر ځان غزني ته رسوي او له هغه ځايه کابل ته ستنيږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

**۳- بابر د غلجیانو پر وړاندې:**
سراولف کارو پخپل کتاب «پټانز» کې په ځغرده ویلي دي، چې د بابر: «لومړني او غیر محسوس مخالفین د پښتني قبیلو مشران وو، چې پخپل هېواد کې دننه پراته وه.»[4]
ده په کابل کې پرېکړه وکړه چې کندهار ته لاړ شي او د مرکزي حکومت د ټنګښت لپاره کندهار وځپي، ولې له یوې خوا د سختې زلزلې له امله، چې په کابل او لغمان کې خلکو ته د سر او مال درانه زیانونه واړول او له بلې خوا د خپلې ناروغۍ له کبله د دې وس ونه موند چې کندهار ته سفر وکړي.
ولې په ۱۵۰۷ کال د مې په میاشت کې بابر د غلجیانو د ځپلو لپاره د زابل ولایت کلات ته مخه کړه.
کله چې له کابل نه «سردې» ته رسیږي هلته یې خبرتیا تر لاسه کړه، چې د «مومندو» جنګیالي غواړي په ده برید وکړي. د بابر جنګیالیو وغوښتل چې په هغو باید یرغل یوسي، خو ده ورته وویل، چې موږ باید ځانته ته معلومه کړو چې آیا ربښتیا دوی د برید هوډ لري؟ هغه وه چې د کټواز خواته یې مخه کړه او دده د وینا له مخې: «ومو لیدل چې غلجیان مو باته شیرمیله څېرمه ودان دي....کله چې ورنږدې شو سترګې مو د دوئ په کېږدیو ښخې شوې. بیا د یرغل اجازه ورکړ شوه او بې شمېره پسونه او مېږې موترې یرغمل کړې......او د افغانانو یوه ډله مو بیخي تباه کړه او ناصر میرزا هم د افغانانو له ککرونه ځلي جوړ کړل.»[5]
بابر نامه کې د هغې رمې شمېر چې د بابر جنګیالیو له غلجیو کوچیانو نه لوټ کړه (د خپل کتاب په ۳۲۵ مخ کې) یو لک مېږې او پسونه په ګوته شویدي.
سراولف کارو هم د بابر د هغو بریدونو یخلی کړیدی چې د غزني له شاوخوا نه نیولي تر کندهار پورې په غلجیو افغانانو کړیدی. په بابر نامه کې په وار وار د پښتنو قومونو او په دغه لړ کې د غلجیو یادونه شوېده، خو دا چې ولې ابدالیانو ته اشاره نه ده شوې د پوښتنې وړ ده!؟
د مثال په ډول بابر د خپلو بریدونو په ترڅ کې «زمینداور» یادوي، خو د دغې سیمې د اوسیدونکو غوښنه برخه چې ابدالي ټبر دی پېنه ترې اړوي.
حال دا چې بابر په غلجیو د برید په لړ کې د «مومندو» یادونه هم کړېده، چې بابر په ۱۵۰۹ کال د پسرلي په موسم د غزني د مقر په سیمه کې پر «مومندو» یرغل وکړ او هغه افغانان یې وځپل.
پخوا تر دې چې بابر د غلجیو له ځپلو وروسته بیرته کابل ته راستون شي، پخپل کتاب کې د دې ټبر یادونه داسې کوي، چې غلجیان زما د یوځ پر وړاندې د جګړې ډګر ته راووتل: «ځنې یې ووژل شول او له سرونو نه یې ماڅلی جوړ کړ. د دې کلي له لوټولو نه وروسته موږ په «نوي او لا به» کې پاڅون وکړ، د خمس او مالیې د راټولو امر مې وکړ، چې شپاړس زره څاروي د خمس په ډول راجمع شول، ټول څاروي، چې موږ د غنیمت په قسم راجمع کړل شمېر یې له سل زرو څخه واووښت.»[6]
هغه وخت چې بابر د غلجیو له ځپلو وروسته کابل راستون شو، دا هغه مهال دی، چې شیباني خان له سمرقند نه راواووښت او «اندخوی» یې لاندې کړ.
ده په دې تړاو داسې لیکلي دي: «د غلجی قبیلې له ځپلو وروسته کابل ته راستون شیباني خان له سمرقند څخه شوم او شیباني خان له سمرقند څخه په خراسان باندې برید وکړ، ځکه چې منصور بخش حرامیتوب وکړ او شیباني خان ته یې د خراسان د نیولو بلنه ورکړه.»[7]
د بابر د څرګندونو له مخې ډاګیزه شوېده، چې ده ته کندهار، بلخ، بدخشان او هندوستان ډېر موهم وه، نو ځکه خو ده په کندهار یرغل وکړ.
**۴- په کندهار برید:**
بابردیوه کتاب د مولف او لیکوال په توګه، د هغه وخت له ډېرو پېښو پلو پورته کړیدی او دی هغ لیکوال دی، پخپلو وژنو یې هم سترګې نه دي پټې کړې.
دی یو زړور رهبر وه، که خونړی هم وه، خو یو مدبر مدیر یې هم ګڼلی شو.
ده په بابر نامه کې لیکلي دي، چې زه کله د خپلې مور له ځلوېښتې او نورو دودونو نه اوزګار شوم باقي «چغانیاني» راته رانه او او موره راکړه، چې په کندهار یرغل وکړم.
د بابر له څرګندونو څخه ښکاري، چې تر دغه دمه، په بشپړه توګه ګندهار نه یوازې د ده په ولکه کې نه وو، بلکې دده سیالانو هم پرې بشپړه ولکه نه درلوده.
ولې د کندهار جغرافیوي ارزښت هر لورې ته د پام وړ وه، نو ځکه خو بابر کوښښ کاوه، چې بدخشان، مزار، کندهار او هند تر خپلې ولکې لاندې راولي.
بابر په بابر نامه کې، چې غوښتل یې کندهار ته مخه کړي د دوه پېښو په تړاو یې داسې لیکلي دي:
«د چغانیاني درایې له مخې مې کندهار لورې ته مخه وکړه، له اوږده سفر وروسته مو په «قوس نادر چمنزار» کې واړول. دلته زه ناروغ شوم، سختې تبې ونیولم، چې پنځه شپږ ورځې بې هوښه وم....بیا چې لږ رفع شوم د زلزلې له غمیزې سره مخ شوم. زلزله دومره سخته وه، چې ان د غرونو سرونه ټوټې ټوټې شول.....له ځمکې نه اوبه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

راخوتېدلي وی.....د دغه ځاې ټول چتونه راپرېوتل......جهانګير پر ځمکه راوغورځېد، په کندهار مي د ورختو پريکړه وځنډوله.»[8]
بابر په قلات برید وکړ او د درنې جګړې په ترڅ کې خلکو ته درنه مرګ ژوبله واړوله او دی وايي، چې ما دغه خونړی برید د جهانګير او «باقي چغانياني» په ټينګار وکړ.
نوموړي د خپل کتاب په ۱۱۲ مخ کې کښلي دي، چې ما کله کابل ونیو، نو «عبد الرزاق ميرزا» او خان ميرزا په خراسان کې پناه اخستی وه، ز‌ه چې له کلات نه ووتم نو دواړه په ډېره منده زما څنګ ته راغلل، د پير محمد ميرزا مور هم ورسره وه.
بابر له هغه ځايه «ښار صفا» ته ورسېد، لومړی «شاه بيګ» او مقيم ته پيغام واستوو، چې کندهار پرته له جګړې وسپاري ولې دغو سيمه ييزو واکمنو دده د پيغام پخلی ونه کړ، هغه وه چې بابر کندهار ته ورسېد.
د دواړو غاړو تر مينځ جګړه ونښته، لومړي يې له شا بيګ سره د غښتو جګړه پيل کړه او بيا دواړه غاړې جنګيالي مخ پر مخ شول. په داسي حال کې چې د بابر د جنګياليو شمېر زر تنو ته رسېده او د سيال لوري، يوازې د مقيم تر قوماندې لاندې اوه (۷) زره جنګيالي د جګړې ډګر ته راووت، ولې ماته يې وخوړه او د «مرغان» غره ته يې شاتګ وکړ.
په پاې کې د بابر پوځ د هغوی جګړه ييزې ليکې ورماتې کړې، کندهار يې لاندې کړ.
په دغه وخت د ارغون يو ورور «احمد علي ترخان» د روغې جوړې لپاره يو پلاوی بابر ته واستوو او بيا يې د کندهار يوه دروازه هم ورته پرانسته.
بابر چې کندهار ته ننووت لومړی يې د «مقيم» هغې خزانې ته ځان ورساوه، چې په يوه ډېرين انګړ کې ځاې پر ځاې کړې وه. خزانه يې ناصر بيګ، قلی بايزيد، محمد بخش او عبد الرزاق ميرزا ته ووېشله او پخپله د کندهار ارګ ته ننووت.
نوموړي د کندهار ټول شته، خزاني او قيمتی توکي لوټ کړل او بيا له ارګ نه «فرخ زاد» بڼ ته لاړ، چار باغ کې هم دمه جوړه کړه او بيا «کوشانه چمن» ته ستون شو، چېرته چې  دده پوځي قرار ګاه او چونی وه.
بابر د کندهار خزانه او ډول ډول قيمتی او لرغوني توکي چې د کندهار په شاهي کوټ کې په کچرو، اسونو او «اوښانو» بار کړل، د زرګونو ځاروبيو په بدرګه مخ په کابل راوخوځېد.
د کندهار خزانه دومره ډېره وه، چې نه يوازې بابر په خپلو سردارانو ووېشله، بلکې پوځيان هم د دغې خزانې له وېش نه بې برخې پاتې نه شول.
بابر کندهار ناصر ميرزا ته او کلات يې عبد الرزاق ميرزا ته وسپاره او پخپله کابل ته ستون شو په کابل کې لا دمه جوړه شوې نه وه چې له کندهاره د ناصر ميرزا پيغام ورته راورسېد چې «شيباني» خان کندهار کلابند کړ.....څو ورځې وروسته ميرزا عبد الرزاق هم کلات پرېښود او کابل ته راوتښتېد.
بابر د دغو پېښو پخلی داسي کړيدی: «عبد الرزاق ميرزا هم څو ورځې وروسته کابل ته ځان راورساوه. څرنګه چې زما اميرانو دا پريکړه کړې وه چې د هندوستان په لوري وخوځېږو، نو ځکه ما کابل عبدالرزاق ميرزا ته پرېښود او ما هندوستان ته د تګ تياری شروع کړ. بيا خان ميرزا د بدخشان ته د تللو اجازه وغوښته، د تللو اجازه مې ورکړه، نو شاه بيګم هم له هغه سره تللو ته چمتو شوه......خو چې «مهرنګار بيګم» هم بدخشان ته د تګ اجازه وغوښته ډېر خپه شوم ځکه چې زما سکه ترور وه، په کار دا وه چې لما سره پاتې شوې وي، ما هغوئ ته هيڅ ونه ويل او دوی ټول بدخشان ته روان شول. (نور بيا )

---

۱) همدغه اثر ۶۹ مخ
۲) همدغه اثر ۷۱ مخ
۳) تری پوهاند ډاکتر حبيب الله، پښتانه ۱۸۹-۱۸۸ مخونه
۴) کارو سراولف، پټانز ۲۳۸ مخ
۵) بابر نامه ۳۲۴ مخ
۶) همدغه اثر ۱۱۰ مخ
۷) بابر نامه ۱۱۶-۸۶ مخونه
۸) بابر نامه ۱۱۶-۸۶ مخونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ